# د لمر جنازه

علم ګل سحر

۱۳۷۷ لمریز

# د لمر جنازه

علم گل سحر

۱۳۷۷

دکتاب نوم: د لمر جنازه

وينا وال : علم ګل سحر

خپرونکې : دانش خپرندويه ټولنه

کمپوز (خطاطي): صديق الله بدر

دچاپ کال: ۱۳۷۷

شمير: ۵۰۰ټوکه

# د پښتوشعرنوی سحر

دا چې په هرې ورځې پسې ماښام راتلونکی دی او په هرې شپې پسې سهار، نو دا دی د پښتو شعر په یوې اوږدې شپې پسې د یوه نوی سحرځرک په لګېدو دی، دغه نوی سحرعلم ګل سحر دی چې پرخپل وار یې د دغې اوږې شپې په روڼونه کې برخه اخیستې او په خپلو لمرینو پلوشو د پښتو شعرتور تیاره او ساړه سمنج ګوګل ته رڼایي او تودوخی وربښي.

د دغسې یو ځوان استعداد د غوړېده نه دهغو پرله پسې او نه ستړی کېدونکې هاندوهڅو زېږنده ده چې په وروستۍ لسیزه کې له کرغېړنتیا (ابتذال) څخه د اوسني پښتو شعر د ژغورتیا لپاره رانښلول شوی دی. که په دغه ژغورنتیایې بهیرکې سپېزوبو څانګوالو د نوې ادبپوهنې او نوې کره کتنې دارانو او الواکانو په وړاندې کولو او رامنځته کولو سره ونډه اخېستې ده نو ترشا یې د سحرغوندې یوشمیرځوانو شاعرانو په خپلو نوښتګرانه زېږنده ییو سره دغه بهیرته یو ډینامیزم او خوځون وربښلی دی.

د همدغه نوی ادبي غورځنګ برکت دی چې زمونږ ځوان استعداد ونه هغه  زړې کرغېړنې او اوږدې لارې نه وهي چې نورو وهلي او هسې بې ځایه یې ځانونه ستومانه کړی دي. د شعر په نامه یې دیوانونه کښلي، مګر شعریت ته ندي رسېدلي. خواشینونکې بیا دا چې په دې هم نه دي پوه شوي چې دوي رېښتا دغې پوړۍ ته نه دي رسېدلي او هسې خوشې یې په اورولو سره  د خلکو غوږونه کاڼه کړي او په کښلوسره یې هسې بې ځایه کاغذونه تور کړي دي.

د سحرصاحب ټوله شاعرانه مخینه تر اتو کلو تېرې نه کوي خو پردې بریالی شوی چې د نظم تربریده را واوړي او د شعرتر پولې او پوړۍ را ورسي. دغه مخ ته پروت شعري غونډه د سحر دا اته کلن پرمختیایي یون یو ښکارنده بېلګه ده، دلته لیدل کیږی چې دغه ځوان شاعر څنګه په پرله پسې ډول له پېښوځخه ځان ورو،ورو را باسي،لومړی پرخپل ازمیښت ډډه لګوي او بیا د نوښت پرلوري ګامونه اخلي په قافیه وال ډګرکې هماغه "نوی غزلیزه" خوا نیسي او په ازاد ډګر کې هم د "نوی ازاد"

ما دوديز ناظمان څکه نيم اولسي شاعران بللي چې له اولسي شاعرانو سره کوم جوت توپير نه لري يوازې دا توپير چې دوي ليک لوست والا دي او خپل د نظمونوه په خپله کاږي او ولسي هغه خپل د نظمونه د سندرغاړواو نورو مينه والو په مرسته ثپتوي. که نه لکه څنګه چې ماورته په خپل بدليميچ "پښتو شعر څنګه جوړېږي" کې نغوته کړې، په ډېرو برخوکې ولسي شاعران تر نيم ولسي هغو د مخه برېښي. د نيم ولسيانو يوازينۍ مخکوالى ښايي په همدې کې وي چې ژبه يې د چا خبره يو څه ادبي برېښي هغه هم په چې دوي د ليک لوست په برکت عربي وييونه زيات کاروي او د دوي ترڅنګه يو نوی هنري انځور له کلاسيکو او ياهم له اوسمهاله شاعرانو څخه راغلا کولای شي خوکه هغه انځورهم په ځير وڅېړل شي له زړو کرغېړنو تکراري تشبيه ګانو پرته نور څه نه دي، لکه شونډې له لالونو، سترګې له بادامو او زلفې له دامونو سره همرنګول. کوم عربي يا پاړسي متحدالمال وييونه لکه عشق، عاشق، معشوقه ،جانان، دلدار، دلبر ... چې د ولسي شاعرانو په  شعرونو کې کارول کېږي،زياتره د همدغو نيم ناظمانو له لارې ورسره پېژندويي پيداکوي. دوي په ربښتېنه د ولسي او ديواني شاعرانو تر منځ اړيکې جوړوي او په دې توګه يې شعروشاعري د دواړو خواوو يو ګډوله بلل کېږي. لرې به نه ځو د ننګرهار يو ولسي شاعر لکه اروانښاد ملنګ جان به راواخلو او له اروانښاد محمد طاهر بينا سره به يې پرتله کړو. تردا منځ به ډېر څه سره ګډ پيدا کړو لکه نظمي ژانرونه ( چار بېتې،بګټۍ، لوبي، داستان، غزلې،مقامونه...) او بيا انځورونو چې د دواړو ډولنو په شعرونو کې په هماغه يوه بڼه کارول کېږي. يوازينۍ بېلتيا ترمنځ هماغه درانه عربي يا پاړسي وييونه دي. چې د بينا شعر د هغه له شعره سره يو توپير پيدا کوي، دلته ډيري په زړه پوري د ښنا زنځيري چاربيتې دي چې په سلو کې ۹۵٪ له عربي او نورو پور وييونو څخه جوړښت مومي. نور نو په ژب ښکلايزه برخه کې ورسره دومره توپير نه لري او کله کله ترې لا د ملنګ جان هغه تېرى کوي. د مځنپانګې او ټوليز اړخ له پلوه هم تردې منځ کوي جوتې بېلندې نښې نه ليدل کيږي.

دغه پورتنۍ ځانګړتياوې زمونږ د نن ورځ په نوښتګرځوان شعر کې ډېرې لږې ليدل کيږي، دلته زياته هڅه د انځور او سمبول اوبيا نوی انځوراو نوی سمبول خواته کيږي. له همدې کبله زه علم ګل سحر د دغو مخته پرتو شعرونو له مخې له اولسي او نيم ولسي شاعرانو څخه رابېلوم او دا حق ورکوم چې د ځوانو نوښتګرو شاعرانو په ليکه کې ودرېږي.

ما د ده دغه شعرونه په پوره پاملرنه سرترپايه ولوستل او د همده په اجازه مې ځنې کوچنۍ نيمګړتياوې هغه هم زياتره په ژبني او تخنيکي برخه کې ورسمې کړې. زه باور لرم چې د دغه ښکلی شعري غونډ له چاپېدو اوخپرېدو سره به زمونږ دغه نوی غوړېدلی سحر لا نويو شاعرانه ازمېښتونو او نوښتونو ته وهڅېږي او لا زيات ارت او روښانه څنډونه او لرليدونه به ورته غيږې پرانيزي،سحرصاحب ته د دغه ښکلی کتاب مبارکي وايم او لمرينه شاعرانه راتلونکی ورته غوارم.

په مينه

پوهاند ډوکتور مجاور احمد زيار

لږم ۱۳۷۰

پرېږدئ ! چې سر په زنګون کـــېږدم او فکر وکړم ايا تاسو وينئ چې زما د زړه

له چينې ډېرې خوږې اوبه راخـــوټيږي چـــې د بشرتنده ماتــــــوي

" ګوېټه "

## د عطرو نقاشي شوی اواز

د ادګارالن پو په نزد که تصادف په پام کې ونيسو نوشعرله وظيفې يا حقيقت سره سروکارنه لري اوهمدا خبره د "شارل بودلر" په نظرکې هم څرګنديږي. کله چې وايي "شعر بې له ځانه بل هد ف نه لري."

د اوسنۍ راوانشناسي پربنسټ شعراو خوب ليدل يو بل ته ورته راواني حالات دي،ځکه په دواړو کې هغه عاطفي تمايلات او زړه ته رانږدې احساسات چې دعقل د کنترول او سانسور په وجه د تحت الشعورساحې ته استول کېږي. د شاعرۍ او خوب ليدلو په وخت کې د عقل ځنځيرونه ماتوي او په خيالي يا هنري دنيا کې ازادۍ ته رسېږي، له دې امله شاعري او خوب ليدل په رواني لحاظ يو بل ته ورته دي. زمونږ د پيړۍ د مفکر "هايدګر" په نزد،منطق د تفکر او په نتيجه کې د تخيل دښمن دی.نوځکه ډېروخت د شعر سمبولونه،استعارې او تصويرونه د خوب ليدلو له سمبولونواو استعارو سره نږدېوالی لري او کله حتی يوډول وي.په ختيځ کي "زهره" او په لويديځ کې "افروديت" د مينې بل نوم دی چې پيل يې خوږ او په زړه پورې او پای يې تريخ او بدمرغه وي، مينه تل له غم او اوښکو سره تړلې او ډېرغښتلي کسان د مينې د سختيو تاب نه لري او همدا ماته ده،چې "اورفه" يې په واويلا کړ او په خپل سوزوګداز يې بوټي او کاڼي وژړول له همدې کبله دا اصل چې شاعر که وغواړي وړونکی شي ماتې د مرګ په بيه هم ورته تمامه شي بايد ترلاسه يې کړي.

منطق او وچ عقل احساسات وژني ته به وايي چې په دې توګه له مينې او ښکلا څخه غچ اخلي مګر په دې کارکې پخپله عقل ليونی کيږي. شاعر کولای شي يوځل او د تل د لپاره مينه اوښکلا د عقل له سيوري څخه وژغوري.

ژبه د رنګ او توکیو په وربښمین او رنګین دګرکې ښکلا نقاشي کوي او په دې توګه نه یوازې غوړونه بلکې سترګې هم نازوي،هغه که چوپ وي هرڅه وايي او یا یې نقاشي کوي. شاعر نه غواړي یوازي لیدونکی وي بلکې مینه او ښکلا د تمثیل،تصویراو سمبول په موجداره رنګ کې نورو ته هم د لیدو وړګرځوي.هغه نه غواړي د تړلې کړکۍ په مرسته د زړه خبرې له نورو پټې کړي. نارنجي سیورى د اوښکو په اوبو مینځي او په دې توګه د عواطفو ګونګۍ دنیا ته خبرې ور زده کوي.

د "بودلر" په اند باید هڅه وشي چې په نثر کې هم شاعر واوسو، مونږ ټول دغه له ستورو ډک اسمان په تړږمۍ کې برېښنا د ابشارغږ پېژنو اما د هغو شاعرانونه انځور زمونږ له توانه وتلي دي.

مونږ له شعرڅخه خوند اخلو او د نقاشۍ رنګونه کولاى شي مونږ له واقعي دنیا نه ورځني عذاب څخه وژغوري، یا په بله ژبه یوازې هنردى چې کولاى شي زمونږ ژوند د تحمل وړ وګرځوي دا ځکه چې هنر زمونږ د وزر ماتي احساساتو تراژیک اواز دى چې د عقل د کنترول په وجه د ناخود اګاه پراخي سیمې ته په شاتمبول شوى اوسرکوب شوي او دغه سانسورشوي ارزوګانې او شاته وهل شوي تمایلات د شاعرانه تخیل، تصویر او سمبول په مرسته ازادیږي، موږ په هرهنري اثرکې خپل امیدونه وینو چې د "تحت الا شعور" او د عقل د قلمرو د زندان له زنځیرونو ازادیږي.

هنرپه یوه مانا د طبیعت په وړاندې واقع دى،نقاش کولاى شي د اور په منځ کې ګلان انځورکړي،نقاش رنګ ټاکي نږدې دى وواېم داسې رنګونه ترکیبوي چې خپل تخیلي انځوربشپړکړي. شعر او نقاشي له عقل څخه لوړ تخیلات انځور وي کله نقاشي کولاى شي د شاعر تخیل انځورکړى د شعر ښه تصویر،تمثیل به هغه وي چې نقا ش هغه نقاشي کړاى شي اما شعر د نقاشي په پرتله د تخیل پراخ ډګر لري.

زه د پنجرې له شا نه

زمونږ د بڼ پریکړى لاس وینم



څومره بې قدره دي پرتې

دا جنازې

د سنګسارشووغونچو

د ونې وچ ښاخونه ساندې وايي...

د سحرصاحب د شعرونو دغه غونډ چې د تاسې په مخ کې پروت دی،ډېرداسې نوی تخیلي تصویرونه لري چې ما هرنقاش یې د رنګ په وسیله انځورولای شي، داسې تصویرونه چې په طبیعت کې وجود ونه لري، د تخیل په مرسته انځورشوي دي. د بېلګې په توګه؛ د ستورو پل، ورِمینه لار، د خوبونوښار، د باران سترګې،د لمرچینه، د ښاخونو ساندې، د شپې اوښکې، د بڼ پریکړې لاس، د سپوږمۍ په بڼ کې، رنځور ژوند، د افق غاړوکې... د دغه کتاب ځینې نمونې چې تاریخي افسانوي پېښو ته په کې اشاره شوي ده ډېرې په زړه پرې دي.یوه بله نمونه چې ته به وایي شاعرپه ویښو سترګو خوب لیدلی...

خوب یو شاعر دی د نیمګړي غزل

زما د روح په تخته لیکي د دوو مینو

داستان

خوب په اوبو کې د کوچۍ پېغلې د حسن

انځور

خو زه د مینې په وزرونو خوب ته ورسېدم

زه شومه خوب

او خوب پرما

بدل شو...

شاعرډېرډېرځلي د سپوږمۍ په رڼا کې د ښکلا ننداره کوي. دا ډول تصویرونو په دغه شعري غونډ کې ځوځله ځان څرګند کړی دی. یا په بله ژبه په دې کمرنګه ړنا کې خپل احساسات، ښکلا ته لېږدوي هغه د هرتخیلي سمبول یا تصویر په باره کې مینه، کېنه امید او وېره لري. کوم عاشق دی چې د معشوقې د نوم په اورېدو د خپل،زړه اواز وا نه وري، دا ځکه چې هرسمبول بې شمیره شیان تداعي کوي. یعنی شاعر د معاني تداعي په مرسته هنري تصویرونه انځوروي.

د شاعر د هیلو د غوټیو غوړېدو بڼ به په ګډه سره ووینو.

اوس همدمره

پوهندوی اسد اسمایي

کابل پوهنتون

۱۳۷۷

بسم الله الرحمن الرحيم

خو ځنده شېبې

تېرې شوې کيسې د سحر هيرې شوې

خو ځنده شېبې د سحر هيرې شوې

ګوره د مطرب رباب نن څه وايي

نن خو ترې نغمې د سحر هيرې شوې

ټنډه د اسمان هم ګونځې ګونځې شوه

موږ نه چې اسرې د سحر هيرې شوې

نور مې شوګيرې شوې په نصيب ځکه

تا نه چې وعدې د سحر هيرې شوې

پوره خو کړه وعده پس له مودو ګلې

شونډو نه بوسې د سحر هيرې شوې

کابل ۱۵/۱۱/۱۳۶۸

د شپې اوښکې

دلمر چینې خو خپلې وړانګې

تر افق قربان کړې

شفق د وینو ډنډ کې ولمبېده

رڼا ټپي شوه د ماښام په نیزو

خو لا امید د سباوون ژوندی دی

او ما د شپې د زړه چاودون شیبه کې

زموږ د کلي د شنه بڼ

د شنو مرغو په

ځوکو

د شپې نا هیلې او ښکې

ولیدلې

۱۷/۱۲/۱۳۷۷

غزل

سوو ارمانو وینو کې ولامبل

هسې مې اسرو وينو کې ولامبل

دا خو ليونتوب زما دمينې و

نن چې مې په سرو وينو کې ولامبل

زه يې دلمبو تناب ته پورته کړم

ستا چې اننګو وينو کې ولامبل

هسې بې خزانه سيلۍ راغله پرې

بڼ کې سرو غونچو وينو کې ولامبل

چاته که ډالۍ يې سره ګلونه کړل

دلته خو سپرلو وينو کې ولامبل

۱۵/۳/۱۳۶۹

کابل پوهنتون

د سپوږمۍ شونډو کې

ما په تياره ماښام کې

له يو دودجن ماحول نه

دتورې شپې له بامه

سپينې سپوږمۍ شونډو کې

پېغله رڼا وليده

چې زموږ په لور يې

سترګکونه وهل

په طلايي پلوشو

درنه ستوري په لاس

موږ ته يې زېرى د سبا راکاوه

۲۳/۱۲/۱۳۶۸

شېر شاه مېنه

نيمګړې هيله

خونه د زړه مې له غمو ډکه شوه

مينه ديار له ناکردو ډکه شوه

ما چې يې هيله دګلونو کړله

باغچه دهيلو له ازغو ډکه شوه

وطن مې وسو دباروتو اورکې

کلى، کوڅه په هديرو ډکه شوه

پېغلې نا اميده له ګودره ولاړې

وياله له وينو د زلمو ډکه شوه

ماويل ګل يې ستا په زلفو کې ږدم

ښکلې پکتیا مې له لمبو ډکه شوه

۱۹/۲/۱۳۶۲

ښرنه – پکتیکا

دوړانګو ویر

ته لکه سترګه دیو سپین سباوون

زما د خیال په یخ وهلي فصل

زما دهیلو په تنکیو غوټو

وړانګې دلمر خوروي

او په خوږه موسکادې

د امید و ګلبڼ ته

وږمینه لار جوړوي

خو ماپه هر مازیګر

څوروي ویر دوړانګو

دا نا بللې تیارې

چې مې همېش څوروي

هو !

ستا په سپین مخ باندې

دخوږو زلفو

سیوری

۱۸/۴/۱۳۶۸

کابل پوهنتون

دشبنم څاڅکي

دخیال ګلونه له کمڅو ولوېدل

دشبنم څاڅکي په ازغو ولوېدل

ستا دښایست په پلوشو کې ګلې

ستوري د هسک له ځلېدو ولوېدل

نن راته ست خو دوصال نه کوې

سره اننګي یې له لوزو ولوېدل

رندانو کبر په خمونو کاوه

چې له پیالواو میکدو ولوېدل

چې یې په ګلونو کې اورونه کرل

ګوره چې دوی په انګارو ولوېدل

دې پښتنو پېغلو ته څه نوم ورکړم

وايي خالونه له موږو ولوېدل

۲۴/۲/۱۳۶۹

دهیلو جنازې

ستړې مې ارمان و ، تلوسو يې وينې وڅښلې

ګلو کې شبنم و ،چې ورېمو يې وينې وڅښلې

غاړو دافق کې مې دهيلو بڼ کرلی و

هيله دسباوه ،خوتيارو يې وينې وڅښلې

اوس به مې دهيلو جنازې په خپلو اوښکو وړم

مينه کې دښکلو ناکردو يې وينې وڅښلې

څه پو ښتې ټپي وجود ،زما دغيرتي وطن

يو ځلې خو خپلو ،بيا پردو يې وينې وڅښلې

راغله دشمال له خو ،سيلۍ دپسرلي په نوم

پاڼې خو لا څه چې ،د ورېمو وينې يې وڅښلې

څه کوې تپوس له دې سحر چې رنګ يې ژېړ ښکاري

څه دښکلو ناز څه اننګو یې وینې وڅښلې

۲۳/۳/۱۳۶۹

کابل پوهنتون

دوږمو لارې

هلته هادي دسیورو

دلته شیطان دتیارو

دپیغلتوب له خوبه نوې پاڅېدلیې سپوږمۍ

ګوره په کاڼو ولي

غواړي تورتم کې ښکېل کړي

دامیدونو سحر

هلته دوریځو په غرو

دلته دشپې په کمڅو

دسپوږمۍ مخ ته تور پړونی نیسي

دباران څاڅکي وژني

په دوزخي منګولو

او زموږ د هیلو د ګلبڼ په لوري

د پسرلي دوږمو لارې نیسي ؟ ! ! !

۳۱/۴/۱۳۶۳

غزني ــ د سردې پروژه

دلمبو پر بستر

زړه مې په یاد د دلبر شپې تېروي

لکه مېن په ګودر شپې تېروي

په اشارو ، کنایو ژوند تېروو

منځ کې دوخت جادوګر شپې تېروي

نشته خوشال زموږ په منځ کې ځکه

نن چې مغل په خیبر شپې تېروي

څه بې پښتو شول غیرتي پښتانه

منځ کې یې بیا سکندر شپې تېروي

تر څو به دا خواره واره پښتانه

په نوم دلر او دبر شپې تېروي

زموږ دا وران کلی به جوړ شي په څه

په کې د مرګ سوداګر شپې تېروي

د مخ رڼا ته رسېدلي نه دي

تورو تیارو کې سحر شپې تېروي

دا به سوغات ستا دیاغي مینې وي

چې د لمبو پر بستر شپې تېروي

۲۸/۵/۱۳۷۰

د سپوږمۍ په بڼ کې

د شپې په  په سیوري کې رڼا د سحر وپړکېده

غوټۍ کې هیله د موسکا ویښه شوه

وړانګې د لمر خورې شوې

خو :

د تورتمونو شیطان

د هسک په پراخه غېږ کې

زړې دوریځو کړي

او د سپوږمۍ په بڼ کې

اغزو ته سا ورکوي

داد رڼا قاتلان

له رڼه ستوري اخلي

د شپې د مرګ انتقام

۲/۴/۱۳۶۹

غزني

دیوې طرحه شوې مشاعرې په لړ کې

داوښکو شېبې

داوښکو په شېبو کې مې غمګینه زنده ګي ده

دمینې تلوسو کې څه نیازبینه زنده ګي ده

داهیله وه نیمګړې که جنون دچا دمینې

چې دې ښکلي وطن کې مې دمینې زنده ګي ده

سیلۍ وه سپرلي رنګه، په ګلونو باندې راغله

دا چا ویل ګلبڼ کې یې ورېمینه زنده ګي ده

نشې د پېغلتوب یې، او سپرلي د شونډو وغوړو

رسېږو په تکل یې چې مو مینه زنده ګي ده

یوه شیبه خوښي ده، بس همدا هم غنیمت دی

بس پاتې له غرمې نه تر ماپشینه زنده ګي ده

۴/۷/۱۳۶۹

کابل پوهنتون

دافق غاړو کې

موږ دافق دغاړو هغې خواته

دامیدونو بڼ کې

دارمانونو سره ګلان وکرل

څه مو په سترګو اوښکو

څه مو په سترګو او ښکو

څه درڼا سحر په پرخه باندې

هسې تازه وساتل

په دې امید چې دسبا ناوې ته

یو دښکلا امیل شي

خو دزمان ملګرو

په بیګانه لرونو

په دې بنيو سرو غرمو کې ګډ کړل

د سرو غونچولوونه !!!

۱۹/۷/۱۳۶۹

دښکلا پلوشې

بيا د ستونه اننګو کې ورک شول

لکه ګلونه ګلکخونه ورک شول

زما ځواني او اميدونه هسې        ستا دښکلا په پسرلو کې ورک شول

پښتنې اوښکې توېيدلې کله    چې فريادونه اسوېلو کې ورک شول

دا ستا کاته زما دشونډو تېرې    ګلې په تګنده غرمو کې ورک شول

ښکلا دګلو اوځلا دستورو        ستا دښايست په پلوشو کې ورک شول

کاروان به ورسي منزل ته اخر      که نازولي قافلو کې ورک شول

سحره هغه مينه وړې کاته        ددې حالاتو په ليمو کې ورک شول

۳/۲/۱۳۶۳

پکتيا

دلمرجنازه

پوه شومه شپه راغله او دلمر جنازه ووته

نن چې يې دمينې داثر جنازه ووته

تاته خو ګلونه او غوټۍ لا منتظرې دي

ولې دې سپرليه داسې ژر جنازه ووته

پېغلو دمالت مې تور پړونی په سر کړی دی

هر خوا هديرې دي د ګودر جنازه ووته

بيا به مې شهيدې او ښکې زېری دژوندون راوړي

کله که دمرګ دسوداګر جنازه ووته

هله به ارمان ددې راکړو ځوابو راشي

کله چې په ژوند دې دسحر جنازه ووته

۱۸/۱۲/۱۳۶۹

ببرک چمن

قبر کیندونکی

هلته په شنو فصلونو کې

زموږ د کلي د ګودر په غاړو

په کار لګیا قبرکیندونکي ګورئ

کله یو بل ته شي په قهر ګوري

څو شېبې وروسته د یوبل په غوږ کې

څه سره وو ایي

موسکي شي سره

او بیا په کار لګیا شي

څومره په بیړه بیړه

زموږ د کلي کروندو او شنو فصلونو کې دوی

لوی لوی قبرونه کني

او ستړيا نه پېژني

دواړه دکلي دځوانانو جنازې چې ويني

يوبل ته وګوري

موسکي شي سره

ژړا دچا دوی اوربدلی نه شي

خو...

زه يې وينم

ته يې وينې

او موږ ټول يې وينو

چې ددې دوو قبر کيندونکو

په يوه اشاره

زموږ دکلي خلک

ديوه او بل جنازې ګور ته لېږي

قبر کيندونکي هم په مينه

مينه

ورته قبرونه کني

ځمکه مړه شوه

دوی لا نه دي ماړه

او په قبرونو باندې

هديرې ډکې

ګودرونه ،کروندې

ډکې شوې

خو دوی لا سترې نه دي

دا واړه په کار لګيا دي

۷/۳/۱۳۷۰

دزرنګار پارک

دشونډوپسرلی

دځوانی عمرمې غمونووخوړ

دسترې لارې منزلونووخوړ

اوښکومې ستاپه زړه اثرونکړ

لکه شبنم چې سروګلونووخوړ

رنګ مې اول نه هسې ژېړ کله و

دښکلومينې اونازونووخوړ

دمخ رڼا ته مې نيمګړی اميد

کمځی کمځی زلفو دنجونو وخوړ

کله سپرلی يې دسرو شونډو وليد

سحر خو هسې تومتونو وخوړ

۲۳/۱/۱۳۷۰

کابل پوهنتون

د اسرو جنازې

وړو دځونانوبه تر څو جنازې

په خپلو دې سترو اوږو جنازې

دلته د بره دي د مرګي استازي

ځکه به وځي د ځګرو جنازې

غوټۍ به څنګه سره ګلونه سپړي

دي پورته شوې د سپرلو جنازې

دلته سرلوړي پښتانه اوسېږي

ځکه وتلې د پردو جنازې

سحره مینه د پی مخو د کړه !

په اوښکو وړه اوس د اسرو جنازې

۷/۹/۱۳۷۰

کابل پوهنتون

د ښو له کلي

جنازې يې د اسرو له کلي وځي

خود به او ښکې د ښه ولـه کلي وځي

دوختونو عجيبه شان فيصلې دي

سره ګلونه د سپرلو له کلي وځي

چې غليم يې پل په خاوره باندې ايښی

شرمنده د پښتنو له کلي وځي

شهامت د پښتنو نه و نو څه و

جنازې چې د پردو له کلي وځي

مورې دوينو د سيند غاړه کې ويده يو

څه په وېره د مرګو له کلي وځي

د خوشال د تورې شرنګ نن ورته ښايي

غليم کله په جرګو له کلي وځي

چا يې هيڅکله پوښتنه هم ونه کړه

سحر ولې په سلګو له کلي وځي

۱۰/۲/۱۳۷۰

کابل پوهنتون

؟

د هديرو او د قبرو خوا کې

چې څوک تيرېږي

دواړه لاس پورته کړي

او دالله ج دربار کې

ددغو مړو په حق کې

هر یو دعاوې کوي

خو !

خو زموږ دکلي خوا کې

چې څوک تیریږي

پټه خوله تیریږي

نه دواړه لاس جګوي

او نه دعا کوي

زموږ دکلیوالو حق کې

نه کلیوالو ته سلام ورکوي

ځکه هغوی

دکلیوالو په ژوندون شکمن دي

او نه یې مړو نه یې ژوندو کې شمېري

۱۸/۹/۱۳۷۰ کابل پوهنتون

شهیدې اوښکې

شولې مې تېره بې پروا په قبر

تش دي هم ونه کړه دعا په قبر

ددې راتلو احسان دې نه منمه

خاورې پرتې دي اوس زما په قبر

اسمان به ولې اوښکې نه تویوي

یتیمان ژاړي دبابا په قبر

دلته هر ګام کې هدیرې جوړې دي

قدم کښېږدي دکوم چا په قبر

هغوی شهید شول دوطن لاره کې

میندې یې ولې کړي ژړا په قبر

سحره ښکلې خو داوس لټوي

چې څلرګې شنې شولې دتا په قبر

۱۵/۹/۱۳۶۸ کابل پوهنتون

دستورو پل

زه دتیارو

او تروږمیو غېږ کې

دافق هغې خوا ته

په تورو لړو کې پټ شوی

ښار کې

شوم د تیارو

لاروی

په سترو سترو ګامو

دې د چوپتیا

په ښار کې

درڼايي په لټون

دستور پل لټوم

یو خو تیارې دې تولې

بل خو خوره ده

ډارونکې او مرګونې

چوپتیا

او دا نا پايه لاره

لا هم اوږدیږي پسې

هلته له لیري په کمزوري اواز

دستوروکلي

دجومات

دملاغږ رارسي

زما په زړه کې

درنا هیلې ته

ساه ورکوي

زه هم په سترو ګامو

دا نا لیدلي اوږده لار

لنډوم

او د تیارو په زړه کې

دستورو پل لټوم

۹/۱۲/۱۳۷۰ ببرک چمن

دعبدالقادر خان خټک په یو شعر

دلمبو تناب

دلمبو په تناب زانګو او تیریږي ژوندون هسې

نه تر اوسه چا لیدلی دلته جوړ دی شبخون هسې

نن زموږ دلته په اوښکو او په وینو ژوند تیریږي

په ارمان یې نن افسوس کړ را یادیږي پرون هسې

موږ په کاڼو باندې وویشت دیوه او دبل سیوری

په پردیو لارو لاړو داچې نن یو زبون هسې

هرې خواته اوښکې اوري هرې خواته اوښکې ډنډ دي

ټول وطن یې راته وران کړه سره ښکېلاک دکمون هسې

دمغل دسر خنجرو خوشال ټيټ نه شو پردو ته

وخت ځواب راځيني غواړي چې بل شته دی پښتون هسې

يوه هيله دسبا وه له مابنام سره شوه ورکه

دشفق کوځو کې ستړی بس کوم يې لټون هسې

دسحر دځوانۍ فصل دجفا په لړو لو شو

دالف په شان قامت يې اوس په څپر شو دنون هسې

خارندوی مېنه   ۱/۱۱/۱۳۷۰

خوب

خوب لکه ټکنده غرمو کې

تر سپيدارو لاندې

زموږ دزړونو دکيسواو درازونو ګودر

خوب لکه خوځند سمندر

په خپلو ماتو اوږو

ماته دميني الهامونه راکړل

خوب يو شاعر دی دنيمګړي غزل

زما دروح په تخته ليکي

ددوو مينو داستان

خوب په اوبو کې

دکوچۍ پېغلې دحسن انځور

او خوب

دسروګلونو بڼ کې یوښکاري ته ورته

چې په ګلونو کې بلبل نه پرېږدي

او دنغمو غږیې په خوله کې وژني

خوب په تی برکې پټلو مې شي دسزار دمینې

خوب دوصال او دهجران پوله ده

خو زه دمینې په وزرونو خوب ته ورسېدم

زما دمینې عظمت ته ګورئ

زه شونه خوب

او

خوب پر مابدل شو

اوس دخوبونو ښار کې

مینه کوم

خوب له کینې نه ډک دی

سلواغه ۱۳۷۷ کابل

دستورو کفن

وژني مې یو ځلې بیا زما ګوره کفن ګنډي

زلفو پـه تارونو مې اشنا ګوره کفن ګنډي

تتـه شوه ډېره چاپې پوښتنه هم ونـه کړله

نن تياري پـه ګوتـه درنـا ګوره کفن ګنډي

اوس مې د زخمي زړګي داغونه چاته وښيم

دې مالت کې ژوند تـه مسيحا ګوره کفن ګنډي

شپه که ده تياره نو درنـا مخه به څوک ونيسي

ستوروته له ورېځو دلتـه بيا ګوره کفن ګنډي

ژوند کې يې پر ما تشه موسکا هم پيروزو نـه کړله

هغه ده سحر نن پـه ژړا ګوره کفن ګنډي

۱۳۷۱/۱/۲۸ د پوهنې وزارت

ويرپه نغموکې

د لتـه ژونددی پـه تياروکې

دلتـه ويردی پـه نغموکې

دلتـه ورځ پـه ش پـه بدلـه

دلتـه مينه اشارو کې

ميکدې مو بتخا نې شوې

دلتـه زهرپـه پيالوکې

دځوانی پـه پيلامه کې مو ړ قتليږو

چې په قام دامازونو(۱)کې او سیږو

امیدونه مو قتلیږي

ژوند شو زهرنه تیریږي

شوې موهیلې ځوانیمرګې

پسرلي موخزانیږي

سره ګلونه دي لوکیږي

داغزوباغچې جوړیږي

نن په کلیوپه ښاروکې

دمرګي سرودغږیږي

بس داوښکو وینو سیندکې ورګډیږو

چې په قام دامازونوکې اوسیږو

چې دمرګ سوداګرخوارکړې

نوپیدادلته اشیل(۲)شو

په وطن کې ژوندون اورشو

دامالت راته باستیل شو

هرخوا اوښکې دي غمونه

په سرو وینوبدل نیل شو

له وطن نه چې قربان شو

دلته هغه نن ذلیل شو

موړ مړه یو که ژوندي یو نه پوهیږو

چې په قام د امازونو کې او سیږو

۱۳۷۱/۲/۱۲زرمت پکتیا

د امازون قام د ښځویو قام وه چې خپل نارینه اولادونه به یې په ځوانی کې وژل اولونې به یې دجګړې لپاره روزلې.

(۲)اشیل:هغه څوک وچې د دغه قام ملکه یې وو ژله.

رنځور ژوند

چا وطن پرېښو د له دیاره ولاړل

خزان په لوري له بهاره ولاړل

ژوند دی رنځور دلته څوک ګرم هم ندي

کلي په لوري چې له ښاره ولاړل

چا ته ژوندون تریخ چا ته وطن لمبه شو

څوک له رقیب څوک له خپل یاره و لاړل

موږ د قصاب دچاړې لاندې پراته

هغوی خو ښه شول چې له داره ولاړل

شپه نې د مېږو به نو چا کوله ؟

پښتانه ځکه له بازاره ولاړل

دهسک په لاره کې هک پک ناست یمه

دوه ځلاند ستوري په دې لاره ولاړل

بوی دهډوکوا وسرو وینو راځي

بلبلان سترې له ګلزاره ولاړل

۱۳۷۱/۷/۲۹زرمت پکتیا

((ځمکه فسادنیولې))

تائیزه(۱)نڅاکوي ،خوشاله ښکاري

او په شرابوباندې مست لېونیان

له هرې خوا ورته په مینه ګوري

تائیزه نڅا کوي خوشاله ښکاري

او په خپل لاس مانۍ ته اور اچوي

سکندر خاندي

ننداري يې کوي

غږيې له لېرې اورو:

ـ پرېږدئ مانۍ وسوځي...

او داوبو پرځای پرې واين شيندي نورو هم چيغې کړلې

په مشالونو يې مانۍ لمبه کړه

پارمينو(۲) چيغې وهي:

مه يې سوځئ

خو سکندر يې

نارې چېرته

اوري

پخپله چيغې وهي:

لمبې، لمبې، لمبې ژوندی دې وي لمبې

مانۍ په اور کې سوځي

(بس ټوله ځمکه لوی فساد نيولې )(۳)

داد پېرېو هستي

دخو شېبو په مستي له تورو خاورو سره ګډه شوله

***

تائيزه نڅا کوي خوشاله ښکاري

او په شرابو باندې مست لېونيان

په مينه مينه ورته ګوري خاندي

مانۍ په اور کې سوځي.
۱۳۷۱/۱۱/۲۴ څارندوی مېنه

د پورته شعر لمن لیک:

(۱)د سکندر معشوقه

(۲)پارمینو د سکندر د جګړې لوی او نږدې ملګری و ،چې بیا سکندر د فیلوتاس له وژلو وروسته هغه په اکباتانا کې وواژه

(۳)دغه جمله سکندر په خپل قلم پارمینو ته لیکلې وه او د خپلو تروریستو ملګرو په وسیله یې هغه ته ولیږله او هغه یې د دې جملې د لوستلو سره جوخت وواژه.

دمرګ یون

اوس بې له تابه څه ژوندون تیریږي

دځوانۍ وخت په ځیګرخون تیریږي

دهغو سترګو بیا لیدو په هیله

زما خو شپه ورځ په لټون تیریږي

دیتیمانو یې ازار وړی و

سخت ځنکدن نن په کمون تیریږي

دڅو مغرورو پښتنو له لاسه

سختې شیبې نن په پښتون تیریږي

نغمې په ور وکړئ چې وانه وربدل شي

زموږ په کلي د مرګ یون تیریږي

سحره مل که تورتمو سره شوې

شپه په امید د سباوون تیریږي

۱۳۷۱/۸/۲۵ کابل

بې کوره ستر ګې

تا زما سترګو سره څه وکول

تا زما دوه سترګې بې کوره کړلې

اوس به په توره شپه کې

چېرې درومي

او دې مانېام کې

به د کوم کور دروازې ټکوي

تا زما سترګوسره څه وکول

او اوس مې دواړه سترګې

لکه یتیمې خوندې

دي سرګردانه لاله هانده

په تیارو کې ورکې

او اوس دمینې په کوڅو کې

ځانته کور لټوي

۱۳۷۳/۱/۲۹ خیرخانه مېنه

کابل ژاړي

په سرو وينو کې ډوبيږي کابل ژاړي

ځوان بچي يې تباه کيږي کابل ژاړي

دغو خپلو ليونيانو هسې وران کړ

چنگيزيان ورته يادېږي کابل ژاړي

نيرون(۱) خوښ دی ورته ګوري خوشالي کا

لکه تړای(۲) هسې سوځيږي کابل ژاړی

بس داوښکو وينو سيندکې لاهو شوی

ورته لاس ورکړئ غرقيږي کابل ژاړي

د پردیو تر پښو لاندې فرياد کړي

د مرګ کاڼي پرې وربږي کابل ژاړي

۱۳۷۲/۳/۲۲

(۱)دلرغوني روم بوالهوس امپراتور

(۲)دتړای ښار چې دلرغوني يونان دلښکرو له خوا وران او وسوځول شو او يوازې ځوتنه يتيمان ،کونډې..ژوندي پاتې شول.

دوير کبرږدی

دومره په ناز دې کبرجنې سترګې مه راړوه

اې دښکلا دبڼ مېرمنې سترګې مه راړوه

درقيب خوا ت8کې به نورژوند په اشارو تېروو

ګلې بس پاتې شوې لیدلې سترګې مه راړوه

تا مې له سترګونه دمینې امتحان اخیستو

ځکه مې وکړې غزونې سترګې مه راړوه

زما دمینې په لیدو د اننګې سره نه شول

دا مې حاصل و دکرنې سترګې مه راړوه

زما مزار ته دې یواځې دعا هم ونه کړه

په بیرته تلو د دروغجنې سترګې مه راړوه

مینه ظالمه هڅوي مې خو زه هم پښتون یم

بیا به درنه شم بې بلنې سترګې مه راړوه

زموږ دمینې او ګلونو دغه ښکلې وطن

اوس شو ټاټوبې دوږنې سترګې مه راړوه

سحره تا هم له غریب وطنه کډه وکړه

دویر کېږدۍ شوې پرې پلنې سترګې مه راړوه

۱۳۷۲ میرانشاه

بیګانه لوګري

وطن کې مې بلېږې سره اورونه لا تر اوسه

دوینو راروان ددریابونه لا تر اوسه

په دې اتل هیواد کې دکمون ورمېږمات شوی

خو دلته سره وژني يو بل ورونه لا تر اوسه

دژوند کاروان روان دی ارتقا په لوري درومي

پښتون نه راويښيږی کړي خوبونه لاتراوسه

لوګري بېګانه زمونږ فصلونو کې ګډ شوي

د سروګلونو دوی کوي لوونه لا تر اوسه

قلم جېل کې بندي دی او ريښتيالا زړه کې پاتې

په خوله مې لګېدلي و مهرونه لا تر اوسه

کابل مې ښکلی ګل و، په ايرو باندي بدل شو

بس ويني دي، ژړاده او ويرونه لا تر اوسه

سحره په برېتونو کې د سپين وېښتان پيدا شول

خوستايې په شعروکې ښکلې نجونه لا تر اوسه

۱۳۷۲/۱۲/۱۸ ميرا نشاه

دڅپو په وزرو

سېلاب وزرونه نغاړي

له قهره ډک دي په فصلونو راځي

او دڅپوپه وزرو

پيغام دوينو راوړي

زه د پنجرې له شانه

زموږ د بڼ پرېکړې لاس وینمه

آه،

څومره بې قدره دي پرتې

دا جنازې،

د سنګسار شوو غونچو

دونې وچ ښاخونه ساندې وایي

وزې پرې خاندي د رومي

او ښان په خوب کې په راتلونکي ویاړي

نور له دې کلي وږمو کډه کړې

او مهاجرې پرخې بیا نه راځي

لمر رانه مخ اړوي

بیا مرور شو

رانه

لمره له تا پوښتمه:

ـ د باران سترګو کې د څه ولیدل

سږکال به څه را پېښ شي

زموږ فصلونه به راشنه شي کنه ؟

ـ سږ کال به فصل شین شي

خو داغزيو فصل

ونې به پاڼې نه کړي

او په هر ښاخ کې به وزغنې شنې شي

غوټۍ د تل لپاره مخ پټ کړی

نه غوړيږي

سږ کال به فصل

داغزو فصل وي

څکه چې د ېريې ارمانونه کېدل

۱۳۷۲-۴-۲۲/۲۱ پکتيا - زرمت

ناورين

پسرلی ژاړي پورته شوې ده دګل جنازه

په ارمانجن مالت کې وينو پل په پل جنازه

ارمان مې ستا په اننګو کې هسې مړاوی وليد

لکه د ښغلو په اوږو دکومې نجل جنازه

وحشته نور دلا په زړه کې ورته پاتې څه دي

اوس خو دوليده په سترګو دکابل جنازه

بيا څه غوغا ده په دې کلي کې ناورين دی څه دی

بيا پښتانه دي ګور ته ليږي ديو بل جنازه

دزړه په وینو باندې لیک زما دمینې غزل

قلمه ژاړه چې وتلې د غزل جنازه

۱۳۷۱/۱۲/۱۲ میرانشاه

غوښتنه

دستا په ښکلو اننګوکې

یې سپرلی کرلی

وخنده !

زموږدبڼ مړاووګلونوته،

یې زیری ورکړه

چې دې خزان خزانوختونومو

نور

زړه

تنګ

کړی.

۱۳۷۵/۱/۲۲کابل

داوښکوشبنم

چې مې دمینې له محفله وځي

ورپسې زړه مې له ګوګله وځي

پرې هرسهار شبنم داوښکو اوري

سوي اهونه چې له ګله وځي

مرګ راته هره ورځ په مخه راځي

هيلې تنکۍ مې له اجله وځي

دلته ښکلا دلته ځواني قتليږي

ښکلي ګلونه له اوربله وځي

چايې دحال پوښتنه ونه کړله

سحربې هي لې له کابله وځي

۱۳۷۵/۱/۲۳

دوردګوتنګی

ماښامونه ،سهارونه

له دې ظلمونو اخېر موږ چېرته کډه وکړو

له سرو اورونو اخېر موږ چېرته کډه وکړو

په خپل کاله کې راته ژوند تريخ شوی زړه مو چوي

له خپلو وروڼو اخېر موږ چېرته کډه وکړو

موږ دوطن په مينه وسوځېدو سرو لمبو کې

يو بې وزرونو اخېر موږ چېرته کډه وکړو

زموږ په ژبو او په سترګو پابندي لګېږي

له دې وختونو اخېر موږ چېرته کډه وکړو

زموږ په ښکلي وطن بل دي دي سقاوي اورونه

له دې غمونو اخېر موږ چېرته کډه وکړو

يو غريبي بل مې د ښکلو فراق زړه تنګوي

له ستمونو موږ چېرته کډه وکړو

سحر مو غوښت خو په تيارو کې لالهانده پاتې شوو

له ماښامونو اخېر موږ چېرته کډه وکړو

وږى ۱۳۷۲ زرمت

اوبه که وينې

ببل مې په غاړه دى

مزدور يمه

اوبه لګوم

شپه ده تياره

او تروږمۍ خوره ده

زه د بادار په ځمکه کار کوم

اوبه لګوم

بادار خوشال دى

او له پورته خونې

چيغې وهي:

ژر شه اوبه لګوه

او له تيارې نه زياته ګټه واخله

چې داپتې اوبه شي

زه هم لګيا ه يم

اوبه لګوم

اوبه له كومه كېږي

وياله كې وينې راځي

خودومره وينې چې وياله يې اخستلای نه شي

آه ،

څومره سترې يمه

وينې په پولو اوړي

ورخ يې په مخ اخيستی

پټم يې هم مخه نيولی نه شي

شپه ته تياره

اوتروږمی خوره ده

خو زه په توره شپه كې

او دې تور تم كې

درنا څریکه وینم

او باوري یمه ،

چې شپه تیر بږي

ژر به ګهیځ شي

ټولو به ووینې چې دا او به ( ! )

له کونه راځي ؟ !

**۱۳۷۲/۲/۲۵** زرمت ـ پکتیا

انسان

ځمکه لا هغه وخت پوه شوې وه پرې

چې دا انسان ،انسان کېدلای نه شي

ژوند دانسان په خبر کولای نه شي

یو به دبل په ضد وسلې جوړوي

یو به دبل په وینو ژوند تېروي

ځمکه لا هغه وخت پوه شوې وه پرې

چې لوی الله(ج)

دکایناتو خالق

له سپېرو خاورو نه انسان جوړاوه

خپلو منلو ملایکو ته یې امر وکړ

چې له اسمانه ددې ځمکې

هر یو پوړ و ګوړئ

او له دې اوو پوړو نه

یو موټی خاوره واخلئ

ترېنه اشرف المخلوقات وجود کړئ

خو ځمکه

هغه وخت پوه شوې وه لا

چې دا انسان

انسان کېدلای نه شي

او دالله(ج) په احسان

نه پوهېږي

ځکه یې هغه شېبه

د خپلې خاورې ورکولو

څخه ډډه وکړه.

۱۳۷۲/۴/۱۵ کابل

ورکه مینه

زه په ویده مالت کې

زه په تیاره ماحول کې

یم سرگردانه

توري شپې تېروم

او لا په لټه کې یم

د خپلې ورکې مینې

***

زمانې ودرېږه !

چې زه ویده مالت کې

د ځوانۍ شپې تېروم

او تاته نه دررسم

چې خپله ورکه مینه

او خپل د مینې ژوندون

بیا ومومم

۱۳۷۲/۵/۲۱ زرمت ـ پکتیا

مات منګي

په سترګو سترګو کې کاته لیوني

نشه نشه ویده ویده لیوني

په خمارو کتو که ښکلې موسکا

وایه مین د کړل په څه لېوني

منګي يې مات کړل ،پېغلې تشې لاړې

په ګودرونو دي ميشته ليوني

له روغو خلکونه يې ښه درک کړئ

چې له دنيانه دي ماړه ليوني

ديوه بل سيوري په کاڼو ولي

دي له ازله پښتانه ليوني

سحره داوطن په اور کې سوځي

څو چې ژوندي وي دا اته ليوني

زمري ۱۳۷۸ پکتيا ــ زرمت

دمينې قتل

زموږه زړونه خو هغو وخوړل

دانتظار ترخو شېبو وخوړل

لکه شبنم په سرو ګلونو باندې

زما کاته ستا اننګو وخوړل

زما نيمګړي ارمانونه خدايه

څه غريبي څه جينکو وخوړل

دچا بنګلې دچا قبرونه جوړ شول
ځینو پیسې، ځینې پیسو وخوړل
زموږ هستي او تاریخي ویاړونه
خپلوتالا کړل او پردو وخوړل
داور دبڼ دمنځ تنکي ګلونه
پرخو تازه کړل خو وږمو وخوړل
زموږ دمینې روح یې قتل کړلو
لکه ګلونه چې اغزو وخوړل
زمری ۱۳۷۳ پکتیا ـ زرمت

داور له ستوني
په وینو لړند
لور دشپې لاسو کې
په ډېره بیره ژبې
ریبي
سترګو ته ګوابن
دنه کتلو کوی
او دسندریزې لمبې
دشعر وزرونه سوځي

داور له ستوني نه

فریاد کومه

څوک دلاسونو خاوند شته

او

که

نه ؟

۱۳۷۲/۴/۲۲ زرمت ـ پکتیا